## د هوپو تعلیمي کیسې

# څرنګه د ګوتې – نانځکی جوړې کړو

## *تاوونکی فاطمه او کیږدۍ*



**۱ ګام:**

۱. تنه له خپلې ګوتې راتاوه کړئ، چې ګوته مو وپوښوي.

۲. بیرته/ خلاصه ځنډه یې وګنډئ.



۱ ګام

**۲ ګام:**

۱. د سر ټوټې ترتیب او پاسنۍ ځنډه یې وګنډئ.

۲. د مالوچو غځېدلی غونډسکه په سر کې کیږدئ.

۳. پاتې پرانیستې ځنډې د سر او غاړې شاوخوا وګنډئ.

۴. د فاطمې مخ رسامي یا نقل یې ورخیلښ کړئ.

**۳ ګام:**

۱. ویښته د سر مخ ته د بهرنیو ځنډو پر ګنډلو ورډېر کړئ (د ۳ ګام عکس د X نښه وګورئ).

**۴ ګام:**

۱. سر د تنې پر پاسنۍ ځنډه کیږدئ.

۲. سره یې وګنډئ.



۴ ګام



۳ ګام



۲ ګام

**۵ ګام:**

۱. تنه د جامو – شا دپاسه کیږدئ.

۲. جامو – مخه دپاسه کیږدئ، مخه او شا ترتیب کړئ.

۳. د جامو ځنډې وګنډئ: اوږې، لاسونه، او ډډې.

**۶ ګام:**

۱. هر لاس د لستوڼو په بیخ ته کیږدئ.

۲. پر څو ټکونو یې سره وګنډئ.

۳. پر جامه سینګار وګنډئ.

۴. د ملا شاوخوا کمربند کیږدئ او ویې ګنډئ.



۶ ګام



۵ ګام

**۷ ګام:**

۱. د زړوکي/ پړوني – مخ راواخلئ او د مخ دپاسه د سر پر منځ یې برابر کړئ.

۲. د زړوکي – شا راواخلئ او د زړوکي – مخ سره یې برابره کړئ.

۳. سنجاق یې کړئ چې ونه غورځیږي.

۴. د زړوکي ځنډې سره وګنډئ او پام مو وي چې له سر سره ونښلي.

۵. پر یوه دوه ټکو زړوکی له غاړې سره ونښلوئ.



۷ ګام

**۸ ګام:**

۱. پر ویښتو سینګار لکه پټۍ ورزیاتی کړئ.

ښه وخت!

فاطمه تاوونکی او کېږدۍ د ادریس شاه لیکنه، نتاشا دیلمر رسامي، © ISHK, 2006

# ګوته – نانځکی مواد او ترتیب/ نخچې ټوټې

**مواد:**

۱. مالوچو غونډسکه
۲. لمخې: نصواري، کمرنګه آسماني، کمرنګه شوتالو رنګی، سور، فیروزه يي او ژیړ
۳. مارکرې، ښه لیکونکي: تور او سور
۴. ګنډلو ستن
۵. قیچي
۶. سنجاقونه
۷. تار

**اختیاري:**

۱. د فاطمې خیرې نقل
۲. ځلیښ

یادونه: د کاغذونو هنر ځلیښ تر ټولو ښه کار کوي.









لاس – ۲ ټوټې
تت شوتالو رنګه









سینګار
ژیړ



کمربند – ژیړ







پاملرنه/ احتیاط: ځان له ټپي کیدو وساتئ! که اړتیا وي د مشرانو څارنه توصیه کیږي. پدې پروژه کې له قیچي سره پرېکول، د ګنډلو تیرې ستنې کارول او تیره استنجاقونو کارول شامل دي!